مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: شتیفان څوایګ
ژباړن: ډاکتر محمدآجان مرزئ

۲۰۲۱/۰۱/۰۳

# د شطرنج کیسه

## څلورمه برخه

په دې سخت وخت کې یوه ناڅاپي پېښه رامنځته شوه چې زما لپاره ژغورونکې وه، لږترلږه د یوې مودې لپاره. د جولای د میاشتې پای و. یوه تیاره او له وریځو ډکه باراني ورځ وه. دا ورځ له ټولو جزئیاتو سره له دې کبله په دقیقه توګه راپه یاد ده، ځکه چې باران د هغه دهلیز د کړکیو پر شیشو لګېدلو چې زه یې ترېنه د تحقیق کوټې خواته تېرولم. د تحقیق قاضي کوټې په مخکنۍ کوټې کې باېد تم شوای وای. سړی باېد تل، له هر تحقیق نه مخکې هلته تم شوای وای. دا تمول هم د هغوی یو تخنیک و. په لومړي سر کې به یې د سړي اعصاب، په نیمه شپه په راغوښتنې او په ناڅاپي توګه له کوټې رایستلو خرابول، او بیا به چې سړي ځان تحقیق ته چمتو کړی و، پر خپل ادراک او اروه به یې د مقاومت لپاره فشار اچولی و، نو سړی به یې په بې معنی او په عین وخت معقوله توګه له تحقیق څخه مخکې یو ساعت، دوه ساعته، درې ساعته، تمېدو ته مجبورولو، ترڅو د سړي بدن ستړی او روح یې وېجاړ کړي. د جولای د میاشتې د ۲۷ نېټې د پنجشنبې په دې ورځ یې په ځانګړې توګه زیات تم کړم. دوه ساعته د تحقیق په مخکنۍ کوټه کې په ولاړه تم وم. دا نېټه هم د یوه ټاکلي لامل له امله زما په یاد ده، ځکه چې په مخکنۍ کوټې کې، چېرې چې زه، بې له دې چې د کېناستلو اجازه ولرم، دوه ساعته پر پخو ولاړ وم، یوه جنتري ځوړنده وه. زه نشم کولای تاسو ته تشریح کړم، چې چاپ شوو او لیکل شوو ټکو ته د لوږې له امله، پر دېوال دې یوه عدد، دې کمو کلمو <د جولای ۲۷> ته په څه ډول ځیر شوم. ما دا کلمې په خپلو ماغزو وخوړلې. او بیاهم په انتظار دروازې ته ځیر وم چې کله به خلاصېږي او په عین حال کې مې سوچ واهه چې د عقیدو دا مفتشین به دا ځل له ما څه پوښتي او پوهېدم چې له هغه څه پرته چې تیاري مې ورته نیولې ده، د کوم بل شي پوښتنه به رانه وکړي. خو سره له دې، د تمېدو او ولاړېدو دا زجر په عین وخت کې زما لپاره یو رحمت و، یو خوند، ځکه چې دا کوټه زما د کوټې په شان نه وه، لږ څه لویه وه، د یوه کړکي پرځای یې دوه کړکي لرل، بستره، د لاس او مخ مینځلو تشت په کې موجود نه وو او نه هم د کړکي پر تمبه یو درز موجود و چې ما په میلیونونو واره ورته کتلي و. د دروازې رنګ بل شان و، د دېوال مخې ته یوه بل شان آرامه څوکۍ پرته وه او کیڼې خواته د آرشیف یوه الماری ولاړه وه چې دوسیې او هم کوټ بندونه پکې موجود وو. پر کوټ بندونو درې یا څلور پوځي کوټونه ځوړند و، زما د شکنجه کوونکو کوټونه. ما بالاخره په خپلو وړو سترګو نوي شیان ولېدل او زما سترګې د دې شیانو پر ټولو جزئیاتو ونښلېدلې. د دې کوټونو هرې ګونجې ته مې وکتل. د بېلګې په توګه مې یوه څاڅکي ته پام وروواوښت چې د یوه کوټ له لمدې غاړې راځوړند و. سره له دې چې د تاسو لپاره به ډېره د خندا وړ خبره ښکاره شي، خو زه په بېځایه هېجان دې ته تم وم چې آیا دا څاڅکی به بلاخره د ګونج پر مخ راتوی شي او یا به د جاذبې د قوې په وړاندې مقاومت وکړي او د زیاتې مودې لپاره به پر خپل ځای پاتې شي. هو، زه څو دقیقې دې څاڅکي ته، بې له دې چې سا وباسم، ځیر وم، داسې لکه چې زما ژوند ورسره تړلی وي. بلاخره، کله چې څاڅکی ښکته وبهېدو، د کوټونو د تڼیو شمېرل مې پیل کړل، اته پر یوه، اته پر بل او لس پر دریم کوټ. بیا مې د کوټونو غاړې له یوه او بل سره پرتله کړې. زما وړو سترګو دا ټول د خنداوړ او بې اهمیته کوچني شیان په دومره حرص لمس کړل، وه یې نازول او په غېږ کې یې ونیول چې تشریح کولای یې نشم. او په ناڅاپي توګه مې سترګې پر یوه شي ونښتې. وه مې ولېدل چې د یوه کوټ جیب یو څه پړسېدلی و. ورنږدې شوم او فکر مې کاوه چې د پاړسوب د مستطیل ډوله بڼې له مخې یوه شوم چې په پړسیدلي جیب کې څه شی پټ شوی دی: یو کتاب! زما زنګونونه په لړزېدو شول: یو کتاب! څلور میاشتې مې هیڅ یو کتاب په لاس کې نه و نیولی او د کتاب تصور یو نشه کوونکی او په عین مهال بې حسه کوونکی احساس و، چې سړی کولای شي ځنګ پر ځنګ لیکل شوی کلمې پکې وګوري، د یوه کتاب کرښې، مخونه، پاڼې، په کومو کې چې سړی نور، نوي، پردي، فکر غلطوونکي سوچونه لوستلای، تعقیبولای شي، خپلو ماغزو کې یې ساتلای شي. زما سترګې، لکه کوډې چې پرې شوي وي، دې واړه پاړسوب ته ځیرې شوې وې چې کتاب په جیب کې رامنځته کړی و. سترګې مې دې ساده ځای ته په داسې ګرمۍ ځیرې شوې وې، لکه چې وغواړي په کوټ کې پر خپل اور یو سوری وسوځوي. بالاخره ما خپل حرص کنترول نشو کړای، په غیرارادي توګه مې ځان کوټ ته ورنږدې کړو. د ټوکر له شا پر کتاب



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لاس وهنې زما اعصاب تر ګوتو پورې د اور په شان ګرم کړل. کابو، بې له دې چې پوه شم، ځان مې ورنږدې کړو. له نېکه مرغه ساتونکي زما تر یوه حده ځانګړې چلند ته پاملرنه ونکړه. ښایي چې هغه ته به طبیعي خبره ښکاره شوې وي چې سړی به له دوه ساعته ولاړېدو وروسته وغواړي لږڅه پر دېوال تکیه وکړي. بلاخره کوټ ته ډېر نږدې ولاړ وم او په عمدي توګه مې لاسونه په شا کېښودل، ترڅو وکړای شم په پټه پر کوټ لاس ووهم. ما د کوټ پر ټوکر لاس ووهلو او په ریښتیا مې هم یو مستطیل ډوله شی حس کړو، یو شی چې د انعطاف وړ و او په غلې توګه کړپېدو - یو کتاب! یو کتاب! دې سوچ د یوه غشي په شان ولړزولم: دا کتاب غلا کړه! ښایي چې پر دې کار بریالی شي، او په خپله کوټه کې یې پټولای شې او بیا کولای شې هغه ولولې، ولولې، ولولې، بلاخره بیاهم یو کتاب ولولې! دا سوچ لا زما سر ته نه و راننوتلی چې د سختو زهرو په شان یې عمل وکړو. په ناڅاپي توګه مې په غوږونو کې بنګا جوړه شوه او زړه مې په رپېدو شو، لاسونه مې د کنګل په شان ساړه شول او له ولکې مې ووتل. خو له لومړۍ وارخطايې وروسته مې ځان غلی او په احتیاط کوټ ته نور هم ورنږدې کړو او کتاب مې په لاسونو، چې تر شا مې پټ کړي وو، په داسې حال کې چې ساتونکي ته مې کتل، له جیبه ورو ورو د پاس خواته جګولو. او بیا: یو ځل مې په لاس کې ونیولو، یو ورو او احتیاطي خوځښت، او په ناڅاپي توګه مې وړوکی کتاب، چې ډېر ضخیم نه و، په لاس کې و. په دې مهال مې له خپل عمل وبېرېدم. خو نور د بېرته تګ لار موجوده نه وه. اوس نو کتاب چېرې پټ کړم؟ کتاب مې په خپله شا په پطلون کې، د کمربند د تړلو په ځای کې ننباسلو او له هغه ځایه مې په کرار د خپل ورون خواته تېر کړو، ترڅو یې د تلو پر مهال د پوځیانو په شان، لاس د پطلون پر درز، ټینګ ونیسم. اوس مې نو باېد لومړنۍ آزماېښت کړی وای. زه له کوټ بند څخه یو، دوه، درې ګامه لیرې شوم. دا کا ر مې وشو کړای. د دې شونتیا موجوده وه چې کتاب د تلو پر مهال ټینګ ونیسم، خو یوازې په داسې حال کې چې لاس مې پر کمربند ټینګ نیولی وي.

له هغې وروسته تحقیق راڅخه پېل شو. دا تحقیق زما لپاره له بل هر یوه سخت تمام شو، ځکه چې د ځواب ورکولو پر مهال مې خپل ټول قوت پر خپلو خبرو نه، بلکه د کتاب پر پټه نیونه متمرکز کړی و. له نېکه مرغه دا ځل تحقیق لنډ و او ما وکولای شول کتاب خپلې کوټې ته ورسوم. زه نه غواړم چې ستاسو وخت پر جزئیاتو ضایع کړم، خو یو ځل د دهلیز په نیمايي لار کې کتاب زما له پطلون څخه په ګواښمنه توګه وښوېدو. ما باېد داسې ښودلي وای چې ګڼې سخته ټوخله راغله، ترڅو ځان بوک کړم او کتاب بیاهم د خپل کمربند لاندې تېر کړم. خو برعکس څه یوه شېبه وه، کله چې خپل دوزخ ته بېرته وررننوتم او په پای کې یوازې او هم یوازې نه وم!

اوس به نو ښایي حدس وهئ چې ما کتاب سمدلاسه راوخیست، هغه ته مې وکتل او وه مې لوست. په هېڅ وجه داسې نه وه! اوس مې چې یو کتاب له ځانه سره لرلو، په لومړي سر کې مې غوښتل، له مخکني شوق او جذبې څخه خوند واخلم، او د ځان لپاره په مصنوعي توګه له ځنډول شوې او د خپلو اعصابو لپاره په زړه پورې توګه د راپارونکې جذبې خیال رامنځته کړم چې دا غلا شوی کتاب باېد له ټولو ښه او باېد څه ډول یو کتاب وي: د ټولو د مخه باېد په ډېرو وړوکو حروفو چاپ شوی وي چې ډېر زیات توري، ډېرې زیاتې پاڼې ولري، ترڅو وکولای شم هغه د زیاتې مودې لپاره ولولم. د دې ترڅنګه هیله مند وم، داسې یو کتاب وي چې ما له فکري پلوه ستړی کړي، کوم ساده او آسان نه، بلکه داسې یو کتاب وي چې سړی یې زده کړي، له یاده یې زده کړي، شعرونه، او له ټولو به ښه وي - څومره یو لوړ خیال! - چې د ګویټه او یا د هومر شعرونه وي. خو په پای کې ما نور ونشو کړای چې پر خپل حرص او  خپله کنجکاوۍ ولکه ولرم. په بستره کې داسې پروت وم چې که ساتونکی په ناڅاپي توګه راننوځي نو وبه نشي کړای ما غافلګیر کړي او کتاب مې په لړزانو لاسونو له کمربند څخه رابهر کړو.

کتاب ته له لومړۍ کتنې وروسته نا امېدي، آن یو ډول سخته غوسه راپېښه شوه: دا کتاب، چې د دومره لوی ګواښ په منلو مې ترلاسه کړی او له ګرمې جذبې او شوق سره مې د وروسته لپاره ساتلی و، د شطرنج له یوه کتاب، د شطرنج د اتلولۍ د یوسل او نېځوسو لوبو له ټولګې بل څه نه و. که په جېل کې نه وای نو له ډېرې غوسې به مې په لومړۍ شېبه کې له راخلاص شوې کړکۍ بهر ګوزار کړی و، ځکه چې له دې پوچ کتاب سره مې نو باېد څه کړي وای او څه مې ورسره کولای شول؟ په لیسه کې مې د نورو ځوانانو په شان کله ناکله زیار باسلو د زړه تنګون له امله د شطرنج لوبه وکړم. خو دا نظري کتاب مې په څه درد لګېدو؟ سړی د شطرنج لوبه بې له سیال، بې له دانو او تختې نشي کولای. په خپګان مې د کتاب پاڼې راواړولې، ترڅو ښایي د لوستلو لپاره کوم څه پکې پیدا کړم، یوه سریزه، یو لارښود؛ خو د اتلولیو د منفردو لوبو له مربع شکله بربنډوعکسونو مې بل څه پکې پیدا نکړل، د هغوی په ډله کې د نه پوهېدو وړ a3-a2، Sf1-g3 او داسې نورې نښې. دا ماته د یوشان الجبر په شان ښکارېدو چې د حل لار مې ورته نه لرله. په تدریجي توګه دا خبره راته روښانه شوه، چې a، b، c د عمودي او له 1 تر 8 عددونه د افقي کرښو لپاره وو او د هرې منفردې دانې ځای یې ښودلو. په دې توګه، ګرافیکي بڼې یوه ژبه ترلاسه کړه. ما له ځانه سره سوچ وکړو چې ښایي وکولای شم په خپله کوټه کې د شطرنج یو ډول تخته جوړه کړم او له هغې وروسته زیار وباسم دا لوبې تکرار کړم. دا چې زما د بسترې روجايي چهارخانه وه، ماته د خدای له خوا د یوې اشارې په شان وه. که سړي روجايي په سمه توګه قات کړې وای نو کېدای شول چې په پای کې څلورشپېته خانې ولري. په لومړي سر کې مې کتاب د توشک لاندې پټ کړو او یوازې لومړۍ پاڼه مې ترینه څیرې کړه. بیا مې د خپلې وچې ډوډۍ له وړو ټوټو څخه، معلومدار په بالکل خندوونکې او نیمګړې توګه، د شطرنج د دانو، پاچا، وزیر او د داسې نورو دانو جوړول پېل کړل. له ډېر هڅ او هاند څخه وروسته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پر دې وتوانېدم چې د بسترې پر چهارخانه روجايي د شطرنج په کتاب کې ښودل شوي موقعييتونه ځای پر ځای کړم. خو کله مې چې زيار وه ايست، ټوله لوبه د ډوډۍ د ټوټو خندوونکو دانو په کارونه ترسره کړم، او د توپير لپاره مې د دانو نيمايي برخه پر ګرد لړڅه توره کړه وه، په لومړيو ورځو کې مې فکر په دوامداره توګه ګډوډېدو. يوه لوبه مې بايد پنځه، لس، شل ځله له سره پيل کړې وای. خو په نړۍ کې بل چا زما په شان چې د تشې مريه وم، دومره زيات وخت لرلو، او چا دومره بې حده حرص او حوصله لرله؟ له شپږو ورځو ورسته مې لوبه بې له عېبه پای ته ورسوله او له اتو نورو ورځو ورسته مې نور د بسترې پر سر د دوډۍ ټوټو ته هم اړتيا نلرله، ترڅو د شطرنج پر تخته د هغوی ځای ته نظر واچوم او له اتو نورو ورځو وروسته مې نور چهارخانه روجايي ته هم اړتيا نلرله. په کتاب کې مجملې نښې a1، a2، c7، c8 زما په ماغزو کې پر ژونديو موقعيتونو انځور شولې. زه پر دې بدلون په بشپړه توګه بريالی شوی وم. ما په خپلو ماغزو کې د شطرنج تختې ته له دانو سره يوځای انعکاس ورکړی و او د فورمولونو له برکته پوهېدلم چې کومه دانه چېرې پرته ده، هماغسې چې يو ماهر موسيقي پوه د موسيقۍ نوټونو ته په يوه کتنه د ټولو آلو منفرد او غبرګ غږونه اوري. له څوارلسو نورو ورځو وروسته مې کولای شول په آسانه توګه په کتاب کې هره لوبه له ياده - او يا په تخنيکي اصطلاح: په پټو سترګو - ترسره کړم. اوس مهال پوه شوم چې زما شرارتي غلا ماته څومره راحت رابخښلی دی، ځکه چې په يوځلي توګه مې يوه مشغولا لرله. سمه ده چې نامعقوله مشغولا وه، خو سره له دې هم مشغولا وه چې تشه يې له منځه وړله. ما د شطرنج د يوسل او پنځوسو لوبو په مرسته د مکاني او زماني غوځونکې يونواختۍ پر ضد يوه په زړه پورې وسله لرله. ما د خپلې نوې مشغولا د جذبې د تل ساتنې لپاره د هرې ورځې وخت د لوبو لپاره ووېشلو: دوې لوبې د سهار له خوا، دوې لوبې له غرمې وروسته او د ماښام له خوا يوازې يوه تکراري لوبه. په دې توګه زما ورځ ډکه شوه چې د ژاولو په شان به، بې له دې چې کومه بڼه ولري، اوږدېدله. زه مشغول وم، بې له دې چې ستړی شم، ځکه چې د شطرنج لوبه دا عالي امتياز لري چې ماغزه يوه ډېر محدود ډګر ته د فکري انرژۍ د لېږدونې له امله آن په فکري ډېر سخت کار هم له پښو نه لوېږي، بلکه برعکس خپله چابکي او مقاومت زياتوي. زما په ماغزو کې په تدريجي توګه د اتلوليو لوبو په لومړنيو يوازې ميخانيکي تکرارولو کې يو هنري او خوندور ادراک راويښ شو. زه په بريد او دفاع کې پر نازکيو، پرځونو او ګواښمنو پولو پوه شوم، له مخکې د فکر کولو، ترکيب، متقابلې ضربې پر تخنيک پوه شوم او ژر مې د شطرنج د هر يوه اتل شخصي عمل د هغه په فردي تګلاره کې دومره بې عېبه وپېژندلو، لکه څنګه چې سړی د يوه شاعر شعر د څو محدودو بېتونو په لوستلو پېژني. هغه څه چې يوازې د وخت د تېرولو لپاره د مشغولا لپاره پيل شوي و، پر لذت بدل شول، او د شطرنج د لويو ستراتيژيستانو، لکه الييچين، لاسکر، بوګوليوبوف، تارتاکوور بڼې زما په يوازېتوب کې د ما د ګرانو ملګرو په څېر راته څرګندې شولې. زما ګونګې او چوپې کوټې هره ورځ بېحده تنوع رابخښله او منظم تمرين مې د فکر د وړتيا ځپلې داډ راژوندی کړو. ما احساس کاوه چې ماغزه مې تازه او د تلې فکري دسپلين له امله لا نور هم پياوړي شوي دي. دا خبره چې ما لا نور هم روښانه او لنډ سوچ کاوه، د تحقيق په لړ کې راته څرګنده شوه؛ ما خپله وړتيا د شطرنج په تخته کې په غير شعوري توګه د غلطو ګواښونو او پټو حيله ګريو په وړاندې دفاع کې بشپړه کړې وه. له دې وروسته نور په خبرو نه غولېدم او د ګيشتاپو مأمورينو ماته په تدريجي توګه په ځانګړې درناوي کتل. ښايي چې په پټه يې له ځانه پوښتلي وي، سره له دې چې د نورو ټولو کسانو مقاومت يې مات کړو، نو ما به د خپل نه ماتيدونکي مقاومت لپاره قوت له کومې پټې زېرمې نه ترلاسه کړی وي.

زما د نېکمرغۍ دې وخت چې د هغه په لړ کې به مې هره ورځ د کتاب يو سل او پنځوس لوبې په سيستماتيکه توګه تکرارولې، څه ناڅه دوه نيمې يا درې مياشتې دوام وکړو. له هغې وروسته، په ناڅاپي توګه يوه مړه ټکي ته ورسېدم. په ناڅاپي توګه، بياهم له تشې سره مخ شوم، ځکه چې د هرې لوبې له شل يا دېرش ځلې تکرارولو وروسته، لوبې د نويتوب د حيرانتيا جذبه له لاسه ورکړه او له ټولو د مخه يې هيجاني او هڅوونکی قوت له منځه تللی و. څه مفهوم يې درلود چې يوه لوبه تکرار کړم چې هر حرکت او خوځښت مې يې له ياده زده و؟ لا به مې لومړی حرکت نه و ترسره کړی چې نور ټول حرکتونه به مې په خپل سر په ماغزو کې راڅرګند شول. نور نه حيرانتيا، نه هيجان او نه هم کومه ستونزه موجوده وه. د ځان د مشغولو، ستومانۍ او د پام غلطولو لپاره مې چې ډېره ضروري بڼه يې راته نيولې وه، د شطرنج د لوبو يوه بل کتاب ته اړتيا لرله. څرنګه چې دا کار بېخي ناشونی و، نو د ليونتوب په دې عجيب مسير کې يوازې يوه لار موجوده وه: ما بايد د زړو لوبو پرځای د ځان لپاره نوې لوبې رامنځته کړی وای. ما بايد زيار ايستلای وای له ځانه سره او يا د ځان په وړاندې لوبه وکړم.

نه پوهېږم چې تاسو د دې لوړې لوبې فکري کچې په اړه تر کومه حده سوچ کړی دی. خو ډېر کم سوچ به کافي وي، تر څو دا خبره روښانه شي چې د شطرنج په شان په يوه خالصه فکري او له تصادف خالي لوبه کې به له خپل ځان سره لوبه کول د منطق له مخې يوه پوچه او بې معنی خبره وي. د شطرنج جذابيت په حقيقت کې پر دې خبره ولاړ دی چې ستراتيژي يې په دوو ماغزو کې رامنځته کېږي، او په دې فکري جګړه کې تور د سپين پر مانورونو ناخبر وي او په دوامداره توګه زيار باسي چې د هغو اټکل وکړي او شنډ يې کړي، په داسې حال کې چې سپين زيار باسي د تور له پټو موخو برلاسی ترلاسه کړي او د هغوی په وړاندې دفاع وکړي. که يو تن له تورو او سپينو دانو سره لوبه وکړي نو داسې يو مبتذل حالت به رامنځته شي چې عين ماغزه بايد په عين حال کې پر يوه شي هم پوه او هم پوه نشي، داسې چې د سپينو دانو لوبغاړی پرېکړه وکړي، هغه څه يې چې يوه دقيقه مخکې د تورو دانو د لوبغاړي په توګه غوښتل او اراده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

يې ورته لرله، په کامله توګه هیر کړي. دا ډول غبرګونی تفکر د شعور کامل وېش ته اړتیا لري، هره شېبه د یوه ماشین په توګه د ماغزو فعالولو او بندولو ته. په شطرنج کې له ځان سره لوبه کول د خپلې سیورې له سره د ټوپ اچونې په معنی دي. لنډه دا چې ما په خپله بېچارګۍ کې څو میاشتې زیار وه ایست ترڅو دا ناشونی او پوچ کار ترسره کړم. خو غیر له دې لېونتوب مې بله لار نلرله، ترڅو بېخي لیونی نشم او یا مې فکر وېجاړ نشي. بېروونکې حالت مې دې کار ته اړ کړی وم چې لږترلږه د دا ډول سپین او تور وېشنې هڅه وکړم، ترڅو مې چارچاپېر تشه مات او وېجاړ نکړي.»
ډاکتر ب. په اوږده څوکۍ کې ځان وغزاوه او د یوې دقیقې لپاره یې سترګې پټې کړې. داسې ښکارېدل لکه چې غواړي یو دردونکی یاد په زور له یاده وباسي. بیاهم د هغه د خولې په کنج کې هماغه عجیب رپېدل پیل شول چې ولکه یې نه پرې لرله. له هغې وروسته په څوکۍ کې لږ څه رااوچت شو.
«هیله مند یم چې تر دې ځایه مې هر څه په روښانه توګه درته بیان کړي وي. خو په هیڅ وجه باور نلرم چې پاتې خبرې به هم همدا شان په روښانه توګه درته څرګندې کړای شم او که نه، ځکه چې دا نوې مشغولا مې له ماغزو د دومره بې قېد او شرطه تشنج غوښتونکې وه چې په عین وخت کې یې پر ځان هر ډول ولکه ناشونې کړه. ما مخکې تاسو ته وویل، چې زما په آند له ځانه سره د شطرنج لوبه په خپل ذات کې یوه بې معنی خبره ده. خو که د سړي مخې ته د شطرنج یوه حقیقي تخته پرته وای، نو دې بې معنی او پوچې خبرې به هم د عملي کېدو یو وړوکی چانس لرلو، ځکه چې د شطرنج تخته د خپل حقیقت له مخې یو څه واټن، یوه مادي پوله شونې کوي. سړی د شطرنج د یوې حقیقي تختې مخې ته چې حقیقي دانې لري، د تفکر وقفې رامنځته کولای شي، سړی کولای شي په جسمي توګه کله د مېز یوې او کله هم بلې خوا ته ودرېږي او په دې توګه تختې ته کله د تورو او کله هم د سپینو دانو له پلوه وګوري. خو څرنګه چې مجبور وم دا سیالی د ځان په وړاندې او یا هم له ځانه سره په یوه خیالي فضا کې انځور کړم، نو ما باېد په څلور شپېتو خانو کې د دانو هر موقعیت په خپل شعور کې ساتلی وای او د دې ترڅنګه مې باېد نه یوازې د دانو موجود حالت، بلکه د دواړو خواوو شونې نور حرکتونه هم سنجولي وای - پوهېږم چې څومره مبتذل ښکاري - یعنې د خپل هر یوه لوبغاړي لپاره مې باېد دوه، درې، نه شپږ، اته، دوولس ځلې تخیل کړی وای او هغه هم د سپین او تور لپاره څلور او پنځه حرکته مخکې. بخښنه غواړم چې له تاسو څخه د دې لیونتوب په اړه د سوچ کولو تمه کوم. زه د خیال په دې اجمالي مکان کې مجبور وم د سپین او هم تور لوبغاړي په توګه څلور او یا پنځه حرکته مخکې سنجش وکړم، یعنې ټول رامنځته کېدونکي حالتونه له مخکې پر دوو ماغزو ترکیب کړم، پر سپینو او تورو ماغزو. خو آن دا وېشنه لا زما د پېچلې تجربې ګواښمنه برخه نه وه، بلکه دا چې د لوبو د خپلواکې طرح کونې له امله مې ثبات له لاسه ورکړ او بې بنیاده شوم. په تېرو اونیو کې د اتلولۍ لوبو د تکرارولو تمرین د دغو لوبو له بیا راژوندي کولو نه غېر بل څه نه و، د یوه شي بیانول چې سخت کار نه و، داسې لکه چې یو شعر او یا د قانون مادې مې له یاده زده کړې وي. دا یو محدود او منظم کار او له همدې امله یو عالي فکري تمرین و. دوه لوبې سهار او دوه لوبې له غرمې وروسته، یوه ټاکلې اندازه وه چې بې له کوم هیجانه مې ترسره کولې. دا لوبې ماته د عادي کار په شان وې، او د دې ترڅنګه به مې چې کله د یوې لوبې په ترڅ کې غلطي وکړه او یا به نه پوهېدم چې څه وکړم، نو کتاب به زما ملاتړ و. دا مشغولا له همدې کبله زما د وېجاړو اعصابو لپاره دومره رغوونکې او تسکین ورکوونکی وه، ځکه چې د پردیو لوبو تکرار زه په خپله په لوبه کې نه شاملولم. ماته بې تفاوته وه چې لوبه تور او یا سپین ګټي، دا یوازې آلیېشین او یا بوګولیوبوف و چې د اتولۍ د لقب لپاره یې مبارزه کوله او زما وجود، زما درک، زما روح د نندارچي او کارپوه په توګه له چارچاپېر او د هرې لوبې له ښکلا خوند اخیست. خو له هغې مودې وروسته مې چې د خپل ځان په وړاندې د لوبې کولو زیار وه ایست، په غیرشعوري توګه مې د ځان ننګونه پیل کړه. زما د وجود دواړو خواوو، تور او سپین، باېد د یوه او بل په وړاندې سیالي کړې وای، د تور لوبغاړي په توګه به له هر حرکت وروسته په ناصبرۍ دې ته تم وم چې زما په وجود کې به سپین لوبغاړی څه وکړي. کله به چې زما په وجود کې یوې خوا یوه غلطي وکړه نو بلې خوا به خوشحالي کوله او په عین حال کې به د خپلې بې مهارتۍ له امله په غوسه کېدله.
دا ټولې خبرې بې مفهومه ښکاري او په حقیقت به هم داسې یو جنون، د شعور یوه داسې مصنوعي وېشنه له یوه داسې ګواښمن هېجان سره یوځای د یوه نورمال انسان په اړه په نورمال حالت کې د سوچ وړ خبره نه وای. خو دا خبره مه هېروی چې له ما څخه په جبر زما نورمال حالت سلب شوی و، یو بې ګناه زنداني وم چې له څو میاشتو راپدې خوا په عمدی توګه پر یوازېتوب شکنجه شوی وم، یو انسان چې له ډېرې مودې راپدې خوا یې غوښتل خپله ټوله غونډه شوې غوسه پر یوه شي وباسي. او څرنګه چې ما د دې کار لپاره د خپل ځان په وړاندې له دې بې معنی لوبې بل څه نه لرل، نو زما غوسه، د غچ اخستنې لپاره زما تنده په جنوني توګه په لوبې کې منعکسه شوله. زما د وجود یوې برخې غوښتل برحقه وه اوسي، او د وجود له بلې خوا سره مې باېد مبارزه کړې وای. په دې توګه د لوبې په بهیر کې کابو لیونساري هیجان ته ورسېدم. په لومړي سر کې مې په آرامه او متفکره توګه سوچ کاوه، د یوې او بلې لوبې ترمنځ مې له ستړیا د خلاصون لپاره دمې کولې، خو په کرار کرار زما راپارول شوو اعصابو نور د تمېدو اجازه نه راکوله. لا به مې د وجود سپین اړخ خپل حرکت نه و ترسره کړی چې د وجود توره برخه به په ډېره چټکتیا په خوځښت شوله. یوه لوبه به لا پای ته نه وه رسېدلې چې ځان ته به مې د بلې لوبې ننګونه ورکړه، ځکه چې هر ځل به زما په وجود کې له دواړو شطرنج وهونکو څخه یو د بل له خوا مات شو او د غچ اخستنې لوبې غوښتنه به یې کوله. زه د دې توان نلرم ترڅو تاسو ته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وواېم چې په خپله کوټه کې مې د تېرو مياشتو په لړ کې د ځان په وړاندې د شطرنج د دې لېونډوله لوبې له امله څو ځلې لوبې وکړې - ښايي زرځلې او يا له هغې هم زيات. دا يو جنون و چې ما د هغه په وړاندې د مقاومت توان نه درلود. له سهار تر ماښام مې غير له فيل، پياده، رخ او پاچا، a او b او c او مات او کلا جوړونې بل هيڅ کوم شي ته سوچ نه کاوه. زما ټول وجود او احساس چهارخانه تختې ته وقف شوی و. د لوبې خوشحالي د لوبې پر شوق او د لوبې شوق د لوبې پر جبر بدل شوی و، يوه شيدايي مينه، يوه سخته غوسه چې نه يوازې په ويښو ساعتونو کې زما مل وه، بلکه ورو ورو په خوب کې هم راسره مل شوه. ما يوازې پر شطرنج سوچ کولو، د شطرنج پر حرکتونو، د شطرنج پر ستونزو. کله ناکله به په لانده تندي له خوبه راويښ شوم او پوه به شوم چې په ناپوهه توګه به مې آن په خوب کې د شطرنج لوبه کړې وي او کله به مې چې انسانان په خوب کې ليدل، نو هغوی به مې يوازې د فيل او رخ په حرکتونو او د آس د مخکې او وروسته ټوپونو په بڼه ليدل. آن کله به چې تحقيق ته وغوښتل شوم، نشو مې کولای په لنډ ډول د خپل مسئوليت په اړه سوچ وکړم. فکر کوم چې په روستيو تحقيقاتو کې به مې ډېرې ګډې وډې خبرې کړې وي، ځکه چې کله ناکله به محققينو په عجيبه توګه يوه او بل ته وکتل. خو په حقيقت کې به د هغوی د پوښتنو په لړ کې په حريصه توګه دې ته تم وم چې کله به خپلې کوټې ته بېرته ويوړل شم، ترڅو خپلې لوبې، خپلې ليونۍ لوبې ته دوام ورکم، يوه بله لوبه، يوه بله او بياهم يوه بله لوبه. هره وقفه، آن هغه پنځه لس دقيقې چې ساتونکي زما د محبس کوټه پاکوله، دوه دقيقې چې ماته يې ډوډی راوړله، زما د بې حده بې صبرۍ لپاره شکنجه وه. کله ناکله به مې ماښام د ډوډۍ کاسې ته لاس هم نه و وهلی. د لوبې له امله به مې ډوډۍ خوړل هېر شوي وو. يوازنی شی به مې چې په بدن کې احساسولو، ډېره سخته تنده وه. ښايي چې دا تنده به زما د دوامداره فکر او لوبې کولو د تبې له امله وه. ما د اوبو بوتل په دوه ځلې خولې ته کولو تشولو او له ساتونکي مې غوښتل چې لا نورې اوبه راته راوړي او په بلې شېبې کې به مې احساس کاوه چې ژبه مې بيا هم په خولې کې وچه شوې ده. زما هيجان د لوبې په ترڅ کې زياتېدو او له سهار تر ماښام مې بل هيڅ کار نه کولو، تر دې حده چې آن يوه شېبه هم آرام کېناستلای نشوم، د لوبې په ترڅ کې به په دوامداره توګه آخوا دې خوا ګرځېدم، آخوا دې خوا ګرځېدم او د ګامونو چټکتيا او بېکراري به مې زياتېدله. د برې او خپل ځان ته د ماتې ورکونې حرص مې په تدريجي توګه پر يوه غوسه بدل شو، له بې صبرۍ به لړزېدم، ځکه چې زما په وجود کې به د شطرنج د يوه لوبغاړي لپاره بل هغه ډېر ورو خوځېدلو. يوه به بل هغه ترغيبولو. ښايي چې تاسو ته به خندونکې ښکاره شي. ما خپل ځانته سپکاوی پېل کړو. کله به مې چې د وجود يوې برخې خپل حرکت په چټکتيا نه ترسره کولو، نو وېل به مې - ژر شه!، ژر شه! او يا، ځه که نه! ځه که نه! څرنګنده ده، نن ورځ پوهېږم چې زما دا حالت د رواني هېجان يو ډول ناروغي وه چې د هغې لپاره د شطرنج تسمم له نوم څخه بل نوم نشم پيدا کولای چې د طب علم آشنايي ورسره نلري. په پای کې پر يوه شي محدود جنون نه يوازې زما پر ماغزو، بلکه زما پر بدن هم برغل کول پېل کړل. ډنګر شوم، خوب مې ناآرام و، هر ځل به مې له ويښېدو وروسته د سُرب په شان درندې لېمې په زياته هڅه خلاصولې. کله به مې ځان دومره کمزوری احساسولو او لاسونه به مې دومره لړزېدل چې د اوبو ګيلاس به مې په سختۍ تر شونډو پورې جګولای شو. خو چې لوبه به مې پېل کړه، نو يوه وحشي ځواک به ولکه راباندې وکړه: لاسونه به مې موټې کړې وو او آخوا دا خوا به ګرځېدم او کله ناکله به مې خپل غږ لکه د سره غبار له مېنځه اورېدلو چې په غوسناک او قهرجن آواز به يې خپل ځان ته د <کشت> يا <مات> نارې وهلې.

زه نشم کولای درته وواېم چې دا وېرونکی او له بيان وتلی حالت څرنګه رامنځته شو. هغه څه چې درته ويلای شم دا دي چې يو سهار له خوبه راويښ شوم او داځل له خوبه راويښېدل بل شان وو. بدن مې لکه له ما جلا، آرام او راحت پروت و. پر ليمو مې ښکلې سترتيا پرته وه چې له څو مياشتو راپدې خوا مې نه وه احساس کړې. دا سترتيا زما پر لېمو دومره ګرمه او راحت بخښونکې پرته وه چې په لومړي سر کې مې د سترګو د پرانستلو په اړه تصميم نشو نيولای. څو دقيقې په ځای کې ويښ پروت وم او بې خوده شوو حواسو مې د دې درانده نرمښت او ګرمې پرېوتنې له خونده لذت ترلاسه کړ. په ناڅاپه مې احساس وکړو چې تر شا مې خبرې اورم، د انسانانو ژوندي غږونه، غلي غږونه چې کلمات يې ادا کول. تاسو زما د خوشحالۍ حدس نشی وهلای، ځکه چې ما له مياشتو، له يوه کال راپدې خوا د قاضي د څوکۍ مخې ته له سختو، تيزو او غوسه ناکو کلمو نه غېر بل څه نه وو اورېدلي. له ځانه سره مې وويل <ته خوب وينې. ته خوب وينې! خپلې سترګې په هيڅ وجه مه پرانيزه! پرېږده چې دا خوب لږ څه نور هم دوام وکړي، که نه نو بيا به هم هماغه لعنتي کوټه وګورې، څوکۍ، د لاس او مخ مينځلو تشت او ميز او د ديوال کاغذي پوښ له هماغه بڼو سره. ته خوب وينې. خوب ليدنې ته دوام ورکه!>

د څلورمې برخې پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ